بسم الله الرحمن الرحیم

## د عربي متحده اماراتو او یهودي دولت تړون

## د غربي نظام هغه تولید چې زموږ فلسطیني وروڼه او خویندي زیانمنوي

د ۲۰۲۰م، د اګیسټ په ۱۳مه اسراییلو او عربي متحده اماراتو ومنله چې د ابراهیمي-توافق هوکړه وکړي. تمه ده چې روانه میاشت دواړه هېوادونه په امریکا کې د سولې تړون لاسلیک کړي. تړون ته د بریا په سترګه کتل کېږي. امریکا له شک پرته د دې تړون ملاتړې ده، ټرمپ د ټویټ له لارې ویلي، چې دا یوه لویه لاسته راوړنه ده. په ملګرو ملتونو کې د امریکا سفیرې کېلي کرفټ، دې تړون ته د نړۍ او ټرمپ لپاره د (لویې بریا) نوم ورکړی او زیاتوي چې ډیپلوماتیکې اړیکې په ډاګه کوي، چې موږ او نوره نړۍ سولې ته څومره لېواله یو.

### د تړون جزیات

په دې تړون سره امارات درېیم عربي هېواد شو، چې یهودي دولت په رسمیت پېژني. تر دې مخکې په ۱۹۷۹م، کې مصر او په ۱۹۹۴م کې اردن، یهودي دولت په رسمیت پېژندلی و. د مصر او اردن له لوري د یهودي دولت په رسمیت پیژندلو سره د دې هېوادونو تر منځ ډیپلوماتیکې اړیکې نه دي رامنځ ته شوي، خو تمه کېږي د یهودي دولت او اماراتو تر منځ د دې تړون په پایله کې دیپلوماتیکې اړیکې رامنځ ته شي. په تړون کې پر سیاحت، سوداګرۍ، ټکنالوژۍ او نورو ملکي برخو کې پر همکاریو تمرکز شوی دی.

### په دې سره به عربي متحده امارات وتوانیږي چې:

- له یهودي دولت سره سوداګریزې، ډیپلوماتیکې او امنیتي اړیکې جوړې کړي، که څه هم په ظاهره ادعا کېږي چې دا تړون له فلسطینیانو سره د مرستې لپاره دی، ترڅو د اسرایلو له لوري د نیواک مخه پرې ونیول شي.

- هغو امریکایي وسلو ته لاسرسی پیداکړي، چې مخکې ورته لاسرسی محدود و، لکه پرمختللي بې پیلوټه الوتکې او ممکن F-35 جنګي الوتکې هم تر لاسه کړي.

- د امریکایي مرستو د اوسني تړون د شرایطو له امله په محلي پلور کې د کمښت له امله د زیان جبران وکړي.

### او یهودي دولت به وتوانیږي چې:

- یو داسې متحد خپل کړي چې ډک جېبونه لري او برلاسی رژیم دی. کولی شي چې د وسلو پېرودلو لپاره ګړندی تصمیم ونیسي. (د یهودي دولت د دفاعی صنعت په حواله)

- له نورو عربي ملتونو سره د ډيپلوماتيکو اړيکو جوړولو وړتيا موندل (دا به دوی ته پر فلسطين د ولکې ساتلو نور ځواک ورکړي)

**پر فلسطين يې اغېز**

يوه تر ټولو لويه اندېښنه پر فلسطين د دې معاملې اغيزه ده. په خبرونو کې په دې اړه ګڼ ليدلوري شته، چې دا معامله به د يهودي دولت پر هغو پلانونو څه اغېز وکړي، چې د لوېديځې غاړې د لاندې کولو لپاره يې لري. منتقدين په دې اند دي چې د دې معاملې په کولو عربي متحده اماراتو د فلسطين له خلکو او پر دې خاوره د دوی له حق سره خيانت کړی دی. د دې معاملې ملاتړي بيا وايي چې يهودي دولت هوکړه کړې، چې د لوېديځې غاړې اشغالولو هڅې به دروي، که څه هم مالومه نه ده چې دا کار به د لنډ وخت لپاره وي، که دايمي.

که د متحده عربي اماراتو او يهودي دولت د تړون تاثيرات او واقعيت په پام کې ونيسو، پر فلسطين يې تاثيرات له پامه نه شو غورځولای. د مسلمانانو ځمکې د يهودي دولت له خوا په زور نيول شوي او دوی ته د نيواک ځواک ملګرو ملتونو او غړو هېوادونو ورکړی دی.

امريکا وايي په سيمه کې به "سوله" وي، خو له دې تړون سره به فلسطينيان څه ډول "سوله" ولري؟

**د فلسطين د خلکو واقعيت**

"له کومه وخته چې اسراييلو تېل بند کړي، په ورځ دوه ميليونه اوسېدونکي کې يوازې څلور ساعته برېښنا لري او له همدې امله تېره اونۍ د غزې د برېښنا يوازينۍ فابريکه هم بنده شوه." منبع: (د 2020 الجزيرې راپور)

د بشري حقونو د څار اداري د ۲۰۲۰م، د راپور له مخې، د اسراييلو حکومت په فلسطيني وګړو سخت او له تعصبه ډک بنديزونه لګولي؛ د غزې تړانګې ته يې د خلکو او توکو پر لېږد ـ رالېږد بنديز لګولی. دوی د نږدې دوو ميليونو فلسطينيانو، چې په غزه کې ژوند کوي تعليم، اقتصادي او نورو فرصتونو، روغتيا، پاکو اوبو او برېښنا ته لاسرسی محدود کړی. د دې کار له امله د غزې ۸۰٪ وګړي بشري مرستو ته اړ شوي دي.

کله چې متحده عربي اماراتو ياد تړون اعلان کړ، دوی وويل چې فلسطينيان يې له ياده نه دي وتلي، ځکه يهودي دولت به د دوی د اشغال پلانونه تعقيب نه کړي. خو د يهودي دولت لومړي وزير بينامين نتنياهو ويلي، دوی د لويديځې غاړې د يو ځای کولو پلانونه ځنډولي، خو دا پلانونه لا هم د مېز پر سر پراته دي.

**ايا د اماراتو او يهودي دولت تړون کوم څه بدل کړي؟**

نه، يهودي دولت لا هم د پخوا په څېر ډاډه دی.

د يهودي دولت پوځ د اګيستې له شپږمې راهيسي نيږدې هره ورځ پر غزه بريدونه کوي، په ورته وخت کې يې محاصرې ته نور هم شدت ورکړی. د غزي ښار د برېښنا يوازينی فابريکې ته يې د تېلو لېږد منع کړی او د فلسطين خاوره يې په تيارو کې ډوبه کړې ده. ولې به دوی جرات پيدا نه کړي؟ د دوی ټوله وېره يوازې د تش په نامه مسلمانو حکامو د غندنو له بيانيو څخه ده.

د ايران د بهرنيو چارو وزارت دغه ټرون يو خنجر وباله چې د متحده عربي اماراتو لخوا د فلسطين د خلکو او ټولو مسلمانانو په شا په بې غيرتۍ کې ښخ کړ شو. ترکيې وويل چې، د سيمې خلک به هېڅکله د اماراتو دا منافقانه چلند هېر نه کړي او وبه يې هم نه ښښي.

عمران خان وويل: "کله چې د اسراييلو او فلسطين په اړه ږغېږو بايد فکر وکړو، چې الله سبحانه وتعالی ته به څه ځواب ورکړو، که چيرې موږ هغه خلک چې له هرې بې عدالتۍ سره مخ شوي او حقوق يې ترې اخيستل شوي، پرېږدو؟ زما وجدان به هېڅکله ماته اجازه رانه کړي، چې داسې څه وکړم او هېڅکله به يې ونه منم"

دوی وايي، نه به يې وبخښي او نه به يې هېر کړي، خو اوس يې منلې ده- (د دوی اعمالو موږ ته له دې پرته بل داسې دليل نه دی پرېښی چې موږ پرې غور وکړو)

**ژمنې شوي چې دوی خپلې موخې تر لاسه کړي او موږ غلي کړي:**

کله چې د مسلمانانو د حکامو څرګندونو ته ګورو، نو موږ بايد په ياد ولرو چې دوی دوې موخې لري. دوی غواړي چې لويديځ قدرتونه راضي کړي، دلته غواړي امريکا راضي کړي بل غواړي د هغو کسانو ملاتړ له ځانه سره وساتي چې دوی ته يې رايې ورکړي دي.

**د امريکا راضي کول**

له سړې جګړې راهيسي يهودي دولت او امريکا يو له بل سره ډېرې نيږدې اړيکې پاللي دي. امريکا يهودي دولت ته په سوداګريزو او پوځي برخو کې په کال کې تر ۳ ميلیارده ډالرو زياتې مرستې لېږلي دي. پر دې سربېره غرب په فعال ډول د فلسطين پر وړاندي کار کوي، له خارجي مرستو د دې لپاره کار اخلي چې دولتونه او نړيوال بنسټونه د فلسطيني دولت په رسميت پيژندلو څخه ډډه وکړي.

**د مسلمانانو راضي کول**

د ټولې نړۍ مسلمانان د فلسطین له خاورې سره ټینګ تړاو لري. د مسلمانانو تش په نامه حکام دا له پامه نه شي غورځولای «که دوی خپل واک او مشروعیت ساتل غواړي او د غربي موخو او اجنډاو خپراوې ته کار کول غواړي» بیا هم د خپلو ولسونو ملاتړ ته اړتیا لري.

**موږ باید د دې معاملې په اړه څه ډول دریځ خپل کړو؟**

اوسني حکام په دې خوښ دي چې خپلو پولو کې پاتې شي او یوازې د یهودي دولت په اړه خپله ناخوښي څرګنده کړي، په داسې حال کې چې زموږ خویندې او وروڼه مخکې له دې چې وینه یې تویې شي په ډېر ناوړه حالت او په لوږه کې ژوند کوي.

ځینې به استدلال کوي، چې په اوسني نظم کې د حکامو لاسونه تړلي دي. موږ په یوه داسې نظام کې ژوند کوو چې موږ په پولو وېشل شوي یو. دوی نه شي کولای د یهودي دولت پر وړاندې عکس العمل وښيي، ځکه وېشل شوي دولتونه دي.

له همدې امله خو باید پوښتنه وکړو، چې ولې؟ ولې د هغو ظلمونو او کړاونو د له منځه وړلو او تجربه کولو وروسته چې مسلمانان ورسره مخ دي، بیا هم دا هر څه ومنو؟ په خاص ډول کله چې دا د الله سبحانه وتعالی د نافرمانۍ په مانا وي او د یو داسې سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظام منل پکې وي، چې په پوره او واضح ډول د الله سبحانه وتعالی د احکامو خلاف وي.

د یهودي دولت په رسمیت پېژندلو رد، بسنه نه کوي او دا هم کوم توپیر نه لري، چې یو څو اسلامي هېوادونه ویناوې او بیانیې جوړې کړي او ووایې چې موږ یې ردوو.

د فلسطیني دولت لپاره ملاتړ بسنه نه کوي. دا کار به هېڅکله د فلسطین د خلکو هغه ستونزې حل نه کړي چې دوی ورسره مخ دي. غربي نظام زموږ د خویندو او وروڼو حقوق نه شي ساتلی او نه به یې په راتلونکي کې وساتي. د دې بېلګې موږ په خپله شاوخوا کې وینو، موږ مسلمه امت هغه څه د سر په سترګو وینو او تجربه کوو یې چې تش په نامه دولت یې د دوی د ساتلو لپاره کوي.

د دوو دولتونو حلارې ته زموږ پام اوښتل، په دې مانا دي چې موږ اوسني نظم ته مشروعیت ورکوو، مسلمه امت دې ته اړ کوو، چې دې کار ته د شخړې د حل او د ظلم د مخنیوي د لارې په سترګه وګوري، ترڅو له خپلو حکامو څخه د فلسطیني دولت د تېر ایستونکي ډیپلوماټیکو هڅو ملاتړ وکړي.

موږ باید په ګډه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې سره سم د خلافت د قایمولو لپاره هڅې وکړو. تاریخ موږ ته دا ښودلې، چې له لله سبحانه وتعالی څخه وېرېدونکي او د ټولیز اسلام پلي کوونکي حاکمان واکمن نه وي، اسلامي امت به خوندي نه وي او د ښځو، نرانو او ماشومانو وینه په بهېږي.

ایا رسول الله صلی الله علیه نه دي فرمایلي چې:

«**إِنَّ دِماءَكُم، وأَمْوالَكم وأعْراضَكُم حرامٌ عَلَيْكُم**»(مسلم)

***ژباړه***: *د مسلمان وینه، مال او ناموس ټولو مسلمانانو ته حرام دی.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکواله: فاطمه مصعب**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**